# ايا زه تاسو ته د دجال په اړه داسې يو څه ونه وايم چې هېڅ پيغمبر خپل قوم ته نه دي ويلي؟ هغه (په يوه سترګه) ړوند دی، او هغه له ځان سره د جنت او دوزخ په څېر راوړي

له ابوهريره رضي الله عنه څخه روايت دی وايي چې رسول الله صلی الله علیه وسلم فرمايلي: "ايا زه تاسو ته د دجال په اړه داسې يو څه ونه وايم چې هېڅ پيغمبر خپل قوم ته نه دي ويلي؟ هغه (په يوه سترګه) ړوند دی، او هغه له ځان سره د جنت او دوزخ په څېر راوړي نو کوم چې هغه يې جنت بولي هغه اور دی او زه تاسو ته خبرداری درکوم لکه څنګه چې نوح خپل قوم ته خبرداری ورکړی و .

[صحيح دی] [متفق علیه دی]

رسول الله صلی الله علیه وسلم خپلو اصحابو ته د دجال، د هغه د صفتونو او نښانونو په اړه خبر ورکوي، چې له هغه مخکې هېڅ نبي ترې خبر ندی ورکړی، له هغو څخه: هغه په سترګه ړوند دی. او الله تعالی له هغه سره داسې يو څه مل کړي دي چې په سترګو جنت او دوزخ ښکاري. مګر د هغه جنت اور او اور يې جنت دی، چا يې چې پيروي وکړه نو خلکو ته داسې ښکاري چې ګويا جنت ته يې ننباسي، خو په حقيقت کې هغه سوځونکی اور دی، او چا يې چې نافرماني وکړه خلکو ته داسې ښکاري چې هغه يې اور ته ننباسي، خو په حقيقت کې هغه ښايسته جنت دی. بيا رسول الله صلی الله علیه وسلم موږ ته د هغه د فتنې په اړه خبرداری راکړ، لکه څنګه چې نوح علیه السلام خپل قوم ته خبرداری ورکړی و.

https://www.sunnah.global/hadeeth/ps/show/3110

النجاة الخيرية
ALNAJAT CHARITY
لجنة الدعوة الإلكترونية
EDC E-Da'wah Committee